زما دایمان اوعقیدي ورونو! په دغه مبارك آیت کي دغه مؤمن حالت تمثیل شوي چي له هغه نه اشتباه اوخطا شوي خو به دي پوهېږي چي معامله يې دهغه خبیراوبصیر خداي(ج) سره ده چي درږو داسراورونه واقف دي اویه بهانه، خپله اوعذر خپل گناه نشي توجیه کولي اوله هغه نه پرته بله ملجا هم نه لري، رجوع يې هغه ته ده، پناه گاه ني صرف هغه ده. په دي خاطر چي کله له هغه نه گناه وشي، نو هغه ددي په ځاي چي ځان تبرئه کي، دخپلي گناه لپاره دلائل اوتوجیهات او مبررات وړاندي کي او ددي ملامتي دبل په غاړه واچوي، ځان تبرئه کي برعکس په خپله گناه اعتراف کوي، خداي (ج) ته رجوع کوي، له الله سره ددي خبري تعهد کوي چي بیا به گناه نه کوي ځکه هغه پوهېږي چي له الله (ج) نه پرته بله پناه گاه او ملجاء نلري. همدا راز په دي مبارك آیت کي دجهاد ترك کولو اودجهادنه شاته پاتي کیدلو دگناه ستر والي او دجهاد اهمیت ښودل شوي، زه به لږي ددغه مبارك آیت ترجمه وړاندي کړم بیادکوي خاصي پيښي په ارتباط چي دا آیت نازل شوي هغه به ورونو ته لږ په تفصیل سره توضیح کړم الله (ج) فرمائي

اوبه هغو دري کسانو هم الله پخپل رحمت سره رجوع وکړه (دهغوي توبه يې ومنله) چي وروسته پاتي کړي شول یعني څښتي عواطل اواسباب او موجبات ددي باعث شول چي هغوي دي په بوي جگړه کي برخه وانخلي او وروسته پاته شي تردي چي ځمکه دخپل پراخ والي او وسعت سره سره په هغوي تنگه شوه او په دوي باندي خپلي سیني اونفسونه هم تنگ شول څوله گمانه هم سزاره دي دښا ورباندي تنگه ده هرڅه ورته بیگانه برېښي

اوخپل نفسونه هم ورباندي ضیق اوتنگ شول مطلب داچي دخپل ځان نه هم بېزاره دي

اوبه دي وپوهېدل چي له الله (ج) نه پرته بله ملجأ نشته

بیا الله په خپل رحمت سره په هغوي رجوع وکړه توبه يې قبوله کړه یقیناً چي الله (ج) توبه قبلونکي مهربان ذات دي

دا آیت دهغو کسانو په ارتباط نازل شوي چي دتبوك په جنگ کي يې برخه وانه خستلي شواي. دپیغمبر علیه السلام مخلص صحابه ؤ په ټولو یا په اکثر غزواتوکي يې له دي نه دمخه برخه اخیستي وه لوی مهاجرین وه په دوي کي داسي کس هم شته چي دلوي هجرت نه مخکي يې ایمان راوړي د بدر ، احد ، خندق او احزاب جگړو کي شرکت کړي خو په بوه غزاکي له برخي اخیستلو نه محروم شوي دادتبوك غزاده له رومیانو سره جنگ دي چي دغه وخت ددښا سترقوځي طاقت وو دا جنگ په داسي وخت کي وو چي گرمي وه ، فصلونه رسیدلي وو. پیغمبر علیه اسلام دمخه نه اعلان کړي چي دي جنگ نه ځان تیار کړي هر څا دجنگ لپاره تیاري نوه ټولو په خپله موقع به دي جگړه کي د برخي اخیستلو اراده څرگنده کړه کله چي لښکر حرکت وکړ منافقین وروسته پاتي شول معذور مسلمانان هم له دي سعادت نه محروم پاتي شول په دي جمله کي څښي کسان داسي وو چي مخلص وو

ولی ـــــناه ني وکړه له دوي نه دا خطار یه سوه، کله چي پیغمبر علیه اسلام دتبوك له جنگ نه ستړنه راوگرځیده دمعمول په شان مسجد ته لاړ دوه رکعته لمونځ يې ادا کړ او په مدینه منوره کي پاتي کسان یو په بل پسي راتلل اوخپل عذر يې وړاندي کاوه پیغمبر علیه السلام دهغوي په هغه ظاهري عذر اکتفا کوله هغوي ته ني وېل چي الله (ج) دي تاسو ته عفوه وکړي. په دي جمله کي حضرت کعب ابن مالك هم شامل وو هغه هم وروسته پاتي شوي وو هغه خپله قصه داسي بیانوي.

زه په دي غزا کي دتللو لپاره تیاروم خومتاسفانه په لږي شیوږخوکي ماتیاري ونه نموله ویل مي چي کله هم لښکرتیارشي ژربه ځان برابروم اوله لښکر سره به یوځاي حو خپوم لښکر تیار شو خو زه لا آماده نه وم ما تیاري نه ده نيولي لښکرحرکت وکړ زه وروسته پاتي شوم ویل مي خیر دي لښکردي بوه ورځ دوه ورځي مزل وکړي زه بوازي یم آس مي تېزدي ځان وربسي رسولي شم به دي ترتیب زه پاتي شوم اولښکر له مانه رخوځند، کله چي زه به مدینه منوره کي ځوارۍ وم بوه خوا او بلي خوا ته مي سترگي اړولي نو یا منافقین به نظر راتلل او یا معذور مسلمانان ځکه زا باندي تنگه وه چي کله پیغمبر (ع) بېرته راوگرځیده نوموږ هم دهغه داستقبال لپاره جومات ته لاړو هلته هرڅوك راتلل اوخپل عذریي وړاندي کاوه.

ما له ځان سره وویل چي که زه پیغمبر علیه اسلام ته کومه بهانه اوعذر وړاندي کړم حال داچي بهانه نه لرم اعذر نلرم، کیداي شي هغه راضي کړم ولي الله (ج) په حقیقت باندي هغه خبروي بیا به پیغمبر علیه السلام له مانه ناراضه وي فیصله مي وکړه چي رښتیا خبره وکړم خاص طور چي کله ما واورېدل چي لدي صحابه ؤ نه دوه کسان نور هم داسي دي

هغوي هم په دي جنگ کي برخه نه دي اخیستي چي کله پیغمبر علیه السلام نه مخامخ شوي هغوي صفا او واضح طور اعتراف کړي او ويلي یې دي چي موږ څه عذر او بهانه نه درلوده او بې موجبه او بې دلیله پاتي شوي یو فیصله مي وکړه چي زه پیغمبر علیه السلام ته حقیقت وایم چي هغه سره مخامخ شوم نو ومي ویل چي یا رسول الله (ص) ته ما پيژني په خداي (ج) قسم که له تا نه پرته زه دبل چا سره مخامخ شوي وي نو ما به حتماً هغه قانع کړي او راضي کړي واي . حضرت کعب ابن مالك ډیر فصیح صحابي و ولي زه پوهېږم چي که ښ په دروغو او بهانه او حیلي سره ناراضي کړم نو الله (ج) به تا په حقیقت خبروي او بېرته به له مانه خفه يې حقیقت دادي چي زه هیڅ عذر نلرم د عذر او ددلیل نه پرته پاتي شوي یم زه له هر حیثه په دي جنگ کي دبرخي اخیستلو لپاره مستعد ... وم هرڅه مي درلودل روغ رمټ وم پیغمبر(ع) په داسي حال کي چي ما ته اشاره کوله وي فرمایل چي دي دهغوکسانو له جملي نه دي .

چي ریښتیا ني وویل اووي فرمایل چي پورته شه او منتظر اوسېږه چي الله (ج) به دي باب خپله فیصله صادره کړي هغه وايي زه له خپل ځایه پورته شوم دخپلي قبیلي دخلکو په ځنگ کي کښېناستم ټول مي شا او خوا کي راغونډ شول اوزه يې ملامتولم چي ولي تا هم بوعذر وړاندي نکړ بوه بهانه دي وړاندي نکړه تردي حده پوري چي کله کله مي ځان محسور گڼلو چي لاړشم او پیغمبر علیه السلام مخي ته بیا کښم او څه عذر وړاندي کړم چي هغه ما ته عفوه وکړي خو چي کله ما واورېدل د صحابه ؤ له جملي نه دوه کسه نور هم مراره بن ربیع او حضرت بلال بن عمیه هم په دي جنگ کي دبرخي اخیستلو نه محروم شوي مخلص صحابه وو اوصفا او واضح الفاظو سره يې پیغمبر (ع) په وړاندي اعتراف کړي چي هغوي څه عذر نه درلود او بي عذره ددي جنگ نه پاتي شوي په دي خاطر نو له دي نه مي ووه وکړه چي لاړشم .

پیغمبر(ع) ته اوڅه بهانه وړاندي کړم پس له هغه پیغمبر (ع) ددي حکم صادر کړچي ددغو دريو کسانو سره به عمومي مقاطعه وي هیڅوك به ورسره خبري نه کوي ددي عام حکم صادریدلو نه بعد زه به هم له کوره نه وتلم جومات ته به تلم لمونځ به مي کولو او بازار ته به مي تگ راتگ کولو خوهیڅ چانه له ماسره خبري نه کولي داسي مي گمان کولو چي د ځمکه بالکل مانه نا آشنا او بیگانه ده او دلته زه هیڅوك نه پيژنم او ماڅوك نه پېژني لکه چي هرڅه بدل شوي وي او هیڅوك دلته زما دي پریشاني اوآشفته حالت نه واقف ندي.

کله چي به زه جومات ته لاړم دلمونځ ادا کولو لپاره نوپیغمبر (ع) ته به مي حسب معمول سلام واچولو او منتظر به وم چي دپیغمبر(ع) دشونډو دخوځېدونه دهغه خوا واورم چي کله به هم مالمونځ کولو پیغمبر علیه السلام به ما ته دشفقت په نظر کتلو چي ما به سلام وگرځولو او هغه ته به متوجه شوم هغه به له مانه سترگي واړولي دهمدغي عمومي مقاطعي په دوران کي بوه ورځ دبېري وېري اوخوف سره دخپل ماشوم توب د دوران دبو دوست کورته لاړم چي هغه وکورم،حضرت ابوقتاده کورته لاړم دباغ دبوال نه مي سراوچت کړ هغه زما د تره ځوي وواو دډیرو کـتـوب او د کوچنوالي د دوران ملگري مي ؤ.

هغه ته مي سلام واچولو خو هغه هیڅ ځواب رانکړ : ما وویل ستادي په خداي قسم وي اي ابوقتا ده آیا زه دخداي (ج) او دهغه د پیغمبر(ص) سره مینه اومحبت نه لرم هغه بیا هم خاموش دي ما بیا تپوس وکړ خو هغه بیا هم ځواب رانکړ دریم ځل مي هغه ته قسم ورکړ او خپل سوال مي تکرار کړ هغه زما په ځواب کي صرف دومره ووېل چي خدایه ته دپیغمبر خبره ومني دابوقتا ده دځواب اورېدلو سره زما اوښکي جاري شوي او له دیوال نه راکوزشوم

دهمدغه مقاطعي په دوران کي یو ورځ بازار ته تلم چي یوکس د بیوي طایفي د روم راغلي اوزه یې گوښه کړم ما ته یې ورېښمیني تکي کي یو خط وسپاره چي دا دغسان پادشاه خط دي چي دحریر په ټوټه کي تاوکړي ما داخط خلاص کړ او دا مضمون اومطلب مي په هغه کي بیاموندلو چي وايي موږ اورېدلي چي ستا ملگري ستا سره ستره جفا کړي او نه دومره ذلیله اوسپك سړي نه ني او نه ستا شخصیت ددي وړدي چي ضایع شي زموږ خواته راشه چي موږ ستا په قدر ښه پوهېږو ماچي کله دا خط ولستو نوویل مي چي خدایه دا ستا بله ابتلا ده نو زما کار دي حدته رسیدلي چي کافران هم له مانه تمه لري چي زه دهغوي دین قبول کړم او داسلام نه لاس واخلم خط مي ټوټي ټوټي کي او بيا خوانه مي وغورځاوه . څلویښت شپي ورځي په همدي ترتیب تېري شوي ناڅاپه یو کس کورته داخل شو او وي ویل چي پیغمبر (ع) دامر کړي چي تاسو هغه کسان چي دجنگ نه وروسته پاتي شوي یاست دخپل ټبر سره هم(دخپلو ښځوسره هم)خپله رابطه قطع کړي ما ورته تپوس وکړ چي آیا هغو ته طلاق ورکړو هغه وویل چي نه فقط له هغو نه بېل شي ما خپلي ښځي ته وویل چي څه دخپل پلار کره ، او دخداي دفیصلي منتظر اوسېږه چي الله(ج) به څه فیصله په دي باب کوي همدا راز شپي او ورځي بو په بل پسي تېریدي . دي حالت ته رسیدلي وم چي دژوند نه بېزاروم پنځوسمه ورځ وه ما دسهار لمونځ کړي ؤ او په خپل ځاي ناست وم چي نا څاپي یوکس داخل شو اودا زېرې وکړ چي مبارك دي وي

کعب بن مالك ا ما ددي خبري اورېد وسره سم سجده وکړه او دخداي شکرمي په ځاي کړ او وپوهېدم چي الله (ج) موږته داگناه بخښلي او ددي نه بعد خلك ولي ولي زما کورته راتلل او بویه بل باندي ئي سبقت کاوه او مانه يې مبارکي راکوله او ویل ني چي بالاخره نوبت دي نه ورسیدوچي الله (ج) ستاسو توبه قبوله کړي.زه دهمغه ځایه دمسجد خواته رخوځیدم ومي لیدل چي پیغمبر(ع) څېره له خوشحالي نه ځلیږي ماسلام واچاوه . هغه مبارك مانه دسلام ځواب راکړ اووني فرمایل چي مبارك دي وي نن ستا دژوندترټولوغوره اوبهتره ورځ ده ماوویل چي یا رسول الله (ص) ایا دا معافي ستا له طرفه ده که دالله(ج) له خوا هغه وویل چي نه الله (ج) ستاسو توبه قبوله کړي ده او دهمدي خبري په تائید کي دا مبارك ایت ولوستوچي

او(خداي په رحمت رجوع وکړه) په هغو دريو تفروچي وروسته پاتي کړي شوي و (دتوبي په قبلیدوکي) ترڅو چي ځمکه دټول وسعت سره سره په هغوي تنگه شوه ، اوتنگ شول پردوي نفسونه بې اوپدي متیقن شول چي دخداي د(غضب) نه دپناځاي نشته مگر دهغه لورته . توخداي پرهغوي باندي پخپل رحمت رجوع وکړه ترڅوتوبه وکړي . بېشکه خداي توبه قبلونکي مهربان دي .

ماعرض وکړ چي یا رسول الله (ص) زما په توبي کي دي دا هم شامله وي چي ما ټول خپل مال دخداي په لاره کي وقف کړ پیغمبر (ع) وفرمایل چي نه بوقسمت دي ځان ته وساته ، دا تا ته غوره اوبهتره ده به دي ترتیب ما دخپل مال بوازي هغه برخه له ځان سره وساتله چي دخیبر په جنگ کي مو په غنیمت ترلاسه کړي وه اونشاتي مي ټول بیت المال ته وقف کړه د دي لپاره چي الله (ج) د صداقت اوریښتیني توب په وجه مانه عفوه وکړه ددي پیښي نه بعد مي له خدي سره عهدوکړ چي بیا به په خپل ټول ژوند کي دروغ نه وایم همیشه به له ریښتیا اوصداقت نه کار اخلم اوهیڅ کله به دروغ او کذب ته پناه نه وړم له همغي ورځي نه تراوسه پوري ما په هیڅ حادثه کي دروغ ندي ویلي او امیدواریم چي له دي نه بعد هم الله (ج) ما له دروغوویلو نه وساتي په دغو کسانوکي چي له جنگ نه وروسته پاتي شوي یوکس حضرت لبابه (رض) هم و هغه چي متوجه شو اشتباه يې کړي دپیغمبر(ع) سره دمخامخ کیدونه دمخه ني ځان په ونه پوري وتاړه ، په بوي ستني پوري او قسم ني یاد کړچي ترڅو زما عفوه اعلان نشي زه به خپل ځان نه خلاصوم له خوراك اوڅښاك نه به ډډه وکړم همدغسي وشوتردي چي بې هوشه شو او پیغمبر (ع) هغه ته اعلان وکړ چي دا معاف شوي ، هغه هم وویل چي یا رسول الله

ددي معافي په وجه ماخپل ټول مال دخداي په لاره کي وقف کړي او پیغمبر (ع) وویل چي نه په ربع ني اکتفاوکړه ربع مال يې ورنه واخیست، هغه صحابه چي دلوي هجرت نه دمخه يې ایمان راوړي بیعت عقبه کي يې ایمان راوړي دبدر، احد، خندق او دخیبر په شان جگړو کي يې برخه اخیستي وه اودبوجنگ نه وروسته پاتي شوي ، وگوري دهغو سره هم دغسي معامله کیږي، عمومي مقاطعه چي په ټوله مدینه منوره کي بوفرد هم دهغه سره خبره نه کوي مگرداچي الله (ج) دهغوي توبه قبلوي اومعافي يې اعلانوي . له دي نه دا خبري څرگندي معلومیږي چي دحق اوباطل ترمینځ د کشمکش موضوع ډېره حساسه ده .

په دي کي دغسي شخصیتونه هم مؤاخذه کیږي لکه حضرت کعب بن مالك دپیغمبر (ع) جلیل القدره صحابه، مسلسل بې تفاوته پاته کیدل او په جنگ کي اشتراك نه کول خوپرېږده بوځل په بوځنگ کي دعدم شرکت په وجه گوره له دي سره داسي معامله کیږي له دي نه معلومیږي چي دجهاد اراده نه درلودل او په هغه کي مسلسل برخه نه اخیستل دا دانسان ایمان په خطرکي اچوي تاسو گوري چي دپیغمبر (ع) دصحابه ؤ سره چي په حساسو حساسوشیبو کي يې دهغه ملگرتیا کړي دهغه په ځنگ کي جنگیدلي دبدر په جنگ کي يې شرکت کړي ، ولي هغوي په بوجنگ کي دعدم شرکت په وجه دصحابه ؤ دعمومي مقاطعي سره مخامخ کیږي له دي نه دجهاد اهمیت معلومیږي اوچي څوك جهاد پرېږدي دجهاد اراده نلري تربوي مودي پوري يې کوي بیا ستړي ستومانه شي وسله په ځمکه کیږدي بیاگمان کوي چي هغه لس کاله جنگیدلي بڅه کاله جنگیدلي-سنگرونو کي پاتي شوي په ټولوجنگونو کي يې شرکت کړي سابقه لري لږي مجاهدي نوریس دي، هغه اشتباه کیږي ده، له دي نه معلوموالي شي چي ددي مسئلي اهمیت څومره دي .

دابوه موضوع ده چي له دي آیت نه اوله دي داستان نه معلومیږي دوهمه مسئله دا ده چي ، څوك په خداي (ج) باور لري په آخرت باندي بې یقین وي له الله (ج) سره به مخامخ کیدوبي باوردي اوبه دي یقین لري چي دهغه خداي (ج) خبیراوبصیردي .

او معامله يې دالله (ج) سره ده له هغه نه چي کله اشتباه وشي نو بیا ژرمتوجه کیږي ، بیا دلائل نه وړاندي کوي په خپله اشتباه اصرارنه کوي د هغه لپاره مبررات نه پیداکوي بلکه هغه په خپله گناه اعتراف کوي خداي ته رجوع کوي، توبه کوي خپلي گناه اوغلطي دجبران په فکرکي وي غواړي چي دا جبران کړي.ددي برعکس دمنافق شان دادي چي هغه نه مسلسل گناه کیږي چي په هغه اعتراض وشي تحریك کیږي بیا له ځانه دفاع کوي دهغه عزت النفس تحریك کیږي . قرآن عظیم الشان دهغوي حالت هم بیانوي چي کله هغو ته وویل شي راشي دخداي (ج) پیغمبر(ص) ته ، ترڅو هغوي له الله (ج) نه درته بخښنه او مغفرت وغواړي ، هغوي په تکبر اوغرورسره په داسي حال کي چي ددي نه ډډه کوي ، په خپله گناه اصرارکوي دهغه لپاره دلائل وړاندي کوي غواړي په دي کي ځان تبرئه کړي دخپلي گناه پېټي هم دبل چاپه غاړه اچوي بل څوك ملامتوي .

چي کله ورته ووېلي شي له خداي نه ووېرېږه نو داد عزت النفس احساس ني په گناه واداروي اوکوشش کوي چي خپله گناه توجیه کړي په هغه اصرار کوي ځان تري تبرئه کوي جهنم هغه لره کفایت کوي ډیر بد داوسیدلو ځاي .

ورونو! انسان اشتباه اوخطا سره توام دي ، شخصي اوفردي اشتباهات اوگناه خوبرېږدي، اجتماعي مسائلو کي هم انسان گناه کوي جهادي اموروکي هم انسان خطا کوي ولي چي څوك په خداي (ج) ایمان لري نو هغه ژر متوجه کیږي خداي (ج) ته رجوع کوي به دي پوهیږي چي په ځمکه کي پرته له الله (ج) نه بله پناه گاه او ملجا نه لرو ، توبه کوي دگناه دتکرار نه ډډه کوي اودهغه جبران په فکر کي وي دهغه له حرکاتو دتبصرو اومواقفو نه ،چي کله تحریك نه ، اسلام ته اوجهاد ته صدمه ورسیږي، په امانتونوکي ورته خیانت وشي ——

نارو ا اوناجایز تصرف وشي، په اجرآتو کي له هغه نه گناه وشي دبل حق تلف کړي نوهغه ژرمتوجه کیږي خداي (ج) ني په یاد کیږي خداي (ج) ته متوجه کیږي، توبه کوي دخپلي گناه دجبران هڅه کوي ددي مبارك آیت نه بعد قرآن عظیم الشان فرمائي اي دایمان خاوندانو له الله نه وېرېږي اوصادقان اوسېږي، هځیله هم صادق وي اودصادقانو ملگرتیا کوي . نافرماني

دمدیني اوسېدونکو لره اودهغوي دشااوخوا کوچیانو اواعرابو لره نه ښائي چي هغوي دي دپیغمبر (ع) ؤوروسته پاتي شي یادي ځان ته په هغه باندي ترجیح ورکړي اوځان دي ترهغه نه غوره وگڼي ددوي ایمان سره دانه ښائي چي پیغمبر(ع) په خپله جنگ ته درومي اودوي وروسته پاته وي ، ځان دومره مهم اوستر وگڼي چي دجهاد نه وروسته پاتي شي، دهمدي تصوریه وجه چي که زه نه وم جهاد به نوي تحریك به نوي، زما په مرگ ژوبله تحریك اوصف ته ډیره صدمه رسیږي هیڅوك باید ځان ترجهاد نه ستر اواوچت ونه گڼي اوتر پیغمبر (ع) ځان مهم تلقي نکړي چي پیغمبر (ع) په خپله شخصاً په جهاد کي برخه اخلي اوشرکت کوي تا ته دانه ښائي چي دهغه نه وروسته پاته شي اوځان نه په هغه باندي ترجیح ورکړي اوغوره يې وگڼي دایه دي خاطرچي دوي ته نه رسیږي کومه تنده ـ او تکلیف اونه لوږه دخداي (ج) په لاره کي اوبه کوم دغسي ځاي قدم نه ږدي چي کافران غوسه کوي له هغو نه کوم سنگر اومورچل نه نیسي، کومه علاقه چي دوي ممنوع اعلان کړي اودهغوي ترتسلط اوسیطري لاندي ده په هغه باندي که مسلمانان قدم ږدي هغه فتح کوي دوي وړباندي په غوسه کیږي، په داسي کوم ځاي باندي هغوي قدم نه ږدي چي کافران غوسه کوي اونه له کافرانو نه کوم هدف ترلاسه کوي مگر داچي ددي هريوبه بدله کي به ده لره صالح عمل لیکل کیږي یعني دخداي (ج) په لاره کي تنده ، دستونزو کړاونو سره مخامخ کیدل، لوږي گالل ، په داسي ځاي قدم کیښودل چي کافرغوسه کوي له هغه نه مفید معلومات ترلاسه کول ، له هغه نه وسایل په غنیمت اخیستل ، سنگر اومورچل ني ورنه نیول ددي هريو په بدله کي به الله (ج) تاسوته صالح عمل ولیکي، یقیناً چي الله (ج) دنیکوکارانو پاداش اواجرنه ضایع کوي .

الله پاداش ورکوي دوي لره ددوي ترټولو دغوره عمل په تناسب یعني الله (ج) دهغوي ترټولو غوره اواوچت نیك عمل په نظرکي نیسي او دهغه په تناسب به ورته پاداش اواجرورکوي.

دامت عزت دجهادنه پرته له بلي لاري نشي ترلاسه کیداي

ورونو! جهادبه په هیڅ صورت کي نه ترك کوي همیشه به دجهاد لپاره تیاروي له جهاد پرته څوك عزت نشي ترلاسه کولي د امت عزت دجهاد نه پرته له بلي لاري نشي ترلاسه کیداي کامیابي له جهاد پرته له بلي لاري نه ممکنه نه ده ، متاسفانه څیني دوکه شوي ، گمان کوي چي روس اوامریکا به دوي ته دافغانستان مسئله حل کړي څیني نوربه دي طمع کي دي چي دروس اوامریکا ترمینځ به دافغانستان قضیه حل وفصل شي ، بیا به دوي ته به زړه پوري برخه په لاس ورشي اوڅیني نورخوبه صریح الفاظو وايي چي موږ دنجیب سره خبري اتري پیل کړي، حزب اسلامي دجنگ له لاري دافغانستان دمسئلي حل غواړي په کابل دحملي پلان لري غواړي چي نوري وینې توبي شي خوموږ نه غواړوچي مزیدي ویني توئي شي او په کابل دي حمله وشي بلکي موږ غواړو دخبرو اتروله لاري دافغانستان مسئله حل کړو په دي خاطر موږ دنجیب سره هم خبري اتري پیل کړي اودروسانو سره هم

ورونو ! یوځوك په دي خبره اعتراف کوي، چي مانجیب نه هیڅ لیږلي و به هندکي زمانښت دنجیب سره خبري اتري وکړي، نجیب وویل زه دهغه چانوم نه اخلم) چي زه دي ته تیاریم چي اقتدارپرېږدم ، مخکي خومي گمان کولو چي ظاهرشاه ددي کارلپاره مناسب دي خواوس له ظاهرشاه نه هم مالاس اخیستي بس دغه جناب صاحب بوازیني کس دي چي کیدي شي زه اقتداورته پرېږدم خومتاسفانه چي تاسو لږوروسته شوي يې که ځلورمیاشتي دمخه موله ما سره تماس نیولي وي، نوزه دي ته بالکل تیاروم چي اقتدار هغه ته وسپارم اوس به هم زه کوشش کوم خومتاسفانه چي زما افسران دي خبري ته تیارندي هغوي وايي چي اوس موږ قوي یو اقتدار هیچاته نه پرېږدو که څوك انقلابي حکومت له موږسره جوړوي موږ تیاریو اهلاً وسهلاً خوکه څوك انقلابي حکومت جوړولو ته تیار نه وي موږ اوس قوي یو اوهیچاته اقتدارپرېښودلوته تیارنه یو، دغه کسان دوکه کوي دهغوي په عقل لوبي کوي دماشومانو په شان ني په چاکلېټو خوشحالوي، دومره ساده دي چي دنجیب په همدي خبره باورکوي طمع لري چي شاید نجیب به هغه ته اقتدار پرېږدي داقتدارمسئله اوس دومره هم بسیطه نه ده، ترڅو چي مجاهدین راضي نشي اودهغوي دخوښي حکومت جوړنشي . په نجیب جانه اقتداروركولي شي اونه روس اوامریکا .

باوروکړي چي روس اوامریکا اوس په دي خبره صلاح شوي چي بو موقت حکومت دي راشي اودنجیب ځاي دي ونیسي خوعملي کولي يې نشي، دمجاهدینو په وجه هغوي ددي پلان دعملي کولو توان نه لري، روس هم غواړي امریکاهم غواړي اوتوافق ني کړي خلك ني تاکلي چي داکسان به دحکومت ریاست او زعامت کوي، په دغو کسانو به کابینه جوړیږي خوعملي کولي يې نشي، دمجاهدوقوتونو په وجه، ددي پلان دعملي کولونه عاجزدي خوداساده بې عقله گمان کوي چي نجیب به هغه ته اقتدارپرېږدي، هغه ني استعمالوي ، دمجاهدینو په خلاف ددي لپاره چي اختلاف راپیدا کړي هره ورځ به هغه باندي بوه بیانیه ورکوي دبي بي سي او صداي امریکا له لاري نورو تنظیمونو ته پـه هـغـه بـانـدي شکنځلي وکړي اودنوروتنظیمنو په خلاف ني استعمال کړي

ورونوا زموږ دنجات لاردجهادآدامه ده له جهادنه پرته نه زموږ مسئله حل کیدلي شي نه اسلامي حکومت قائمیدلي شي جهادته به ادامه ورکوو موږ نورو تنظیمنو سره هم په دي باب خبري اتري پیل کړي زه دخبرواترو نتائجو ته امید واریم موږ یو موافقت نامه ترتیب کړي ده اودامضا ء مرحلي ته رسیدلي دځینو معاذیرو په وجه ددي امضاء وځنډیده ، ددي لپاره چي نوروتنظیمونو سره هم خبري اتري وشي اوهغوي هم دوحدت دابلله ومني اودواموافقت نامه قبوله کي امضاء يې کړي اودهغه مطابق کاریبل شي دوحدت دپاره هم په بوي طرحي بحث شوي اوتوافق راغلي موافقت نامه دامضاء لپاره تیاره ده دافغانستان دقضیي په عسکري ارتباط هم په بومشترك پلان توافق شوي اودعملي قدمونو اخیستلو مرحلي ته رسیدلي، اوس موږ منتظر یوداتمام حجت لپاره موږبېره موده صبروکړ غواړو چي قردقردملت په دي بوه شي چي حزب اسلامي وحدت غواړي نورموږ ته شکنځلي کوي خوموږ خپلومجاهدینو ته وایو چي په دي شکنځلو به غوږنه کاږه اچوي بس ددي ځواب به به نه وايي بیاهم موږ خبرواترونه تیاریو له همغوکسانو سره هم خبرواتروته تیاریو چي موږ ته شکنځلي کوي دخپل ملت لپاره ، دخداي (ج) لپاره ددي قضیي دحل په خاطر دهغسي دلو سره هم بحث اوخبرواترونه کېنو چي دافغانستان په قضیه کي هیڅ اثر نلري تاسوته معلومه ده هغوي فقط دبي بي سي اوصداي امریکا په امواجو کي شته خوبه داخل کي په سنگرونو کي هغه هیڅ رول ، اثر اونقش نلري . موږ ددغسي دلو سره هم خبرواتروته تیاریو . ددي لپاره چي دافغانستان مسئله حل شي دمجاهدینو صفوف متحدشي موږ په بوه متفق علیه اداري په خپلو منځونوکي توافق وکړو چي دکابل رژیم نسکورشي بیا دغه اداره اوحکومت دغو ځاي ونیسي بیابه بوه معینه موده کي انتخابات ترسره شي اوقدرت منتخب حکومت ته انتقال شي .

موږ بومشترك عسکري پلان هم نوروټولو ته وړاندي کړي څینو دلویه اصولي طور په دي پلان توافق کړي اوغواړي چي ددي پلان مطابق دي مجاهد قوتونه دبوي قوماندي لاندي ددښمن په خلاف سوق شي څیني نورددي مخالفت کوي خوچي کله هم موږ وتوانیدلي شو دهغوي په نسبت اتمام حجت وشي موږ به خپل کارپیل کړو به هرصورت اوانشاء الله دکابل رژیم به په هرصورت کي ختمیږي، نه هغه زموږ مجاهدین دوکه کولي شي اونه هغه دمجاهدینو په وړاندي دتل لپاره مقاومت کولي شي، زه یقین لرم چي دنجیب عمرډیرلنډدي هغه به په هرصورت کي ختمیږي خودغه جامع په توروي اوخداي (ج) ته به مخ تورن او مسئول وي چي دوحدت په وړاندي خنډونه اوموانع راپیداکوي او ددښمن سازشونو اوتوطئوته امیدساتي اوبه دي سازشونو کي هغوي ملوث دي دجهاد مخالفت کوي اوددي په ځاي چي دجهاد له لاري د افغانستان مسئله حل شي دکابل رژیم نسکورشي کوشش کوي چي له دي نه پرته دسازشونو له لار دغسي په افغان ولس باندي تحمیل شي چي هغه روس اوامریکا ته دمنلو وړوي اوبه دي حال کي دوي ته به زړه پوري برخه په لاس ورشي.وآخردعوانا عن الحمدلله رب العلمین

په ننګرهار، لوګر اوپروان

دمیزان دمیاشتي په شلمه نیټه دجمعي په ورځ حوړشوي وو د شهیدانو دکورنیو غړیو اودحزب اسلامي دمشرتابه هیئاتونو له خوا فاتحه اخستل کیده اوزموږټولو راغلوهیوادوالو اومسلمانو ورونو په دي توگه دتسلیت مراتب څرگندول .

ددغو مراسمو په ترڅ کي د حزب اسلامي افغانستان امیر ورونږانجنیر حکمتیار ، دافغانستان داسلامي حرب مشر مولوي صاحب محمدیونس خالص مولوي صاحب عبدالرحیم ختجاني مولوي صاحب بزرگ اومجاهد صاحب پخپلوویناووکي دشهادت دلوړمقام دلوي خداي په لاره کي هغه ته درسیدلو اودهغه ددیني اواخروي سپیڅو په باب خبري وکړي

زموږ خبریالان زیاتوي: په دي وروستیو وختونوکي دننگرهار دجهاد دامیر، دحزب اسلامي دمرکزي شورا دغړي اودظفرغونډ دعمومي قوماندان په گډون زموږ اته کسه اتل قوماندانان دننگرهار ولایت دمربتي په سیمي کي دجهاد دلوړي لیکي په ټوهم سنگر دشهید غلام حیدر حیدري په مرکزکي په شهادت رسیدلي، دلوگر په ولایت کي دحزب اسلامي دقوماندان محمدسمیع خادم اوگلورتنو نوروشهیدانو دمحمدآغي په ولسوالي کي له ملحد دښمن سره په مخامخ جگړه کي شهید شوي او دپروان ولایت دنعمان په حوزه کي ورور سیدحکیم (شیرحکیم) اوداوه ویښتوالوټکو راغورځوونکي اتل ورور سید بابا هم دشهادت جام څښلي .

زموږ ددغواتلو اونوروقهرمانانو شهیدانوورونو دفاتحي دغه پرتمین مراسم دجمعي ترلانځه وروسته ددعاګانو په اوږدو سره پاي ته ورسیدل .

زموږ دخبریالانو دیوبل خبرله مخي : دننگرهار په ولایت کي دحزب اسلامي افغانستان دمرکزي شورا غړي ، دننگرهار دجهادامیر اودظفرډنونو دعمومي قوماندان اتل وروړشهید زاهد ابراهیمي او ورسره نورو نهو قوماندانانو فاتحه دشهید زاهدابراهیمي دکورني له خوا دمیزان په ۲۳ دنصرت مېني په جامع جومات کي واخستل شوه چي ترلسوزروزیاتو مهاجرینو اومجاهدینو پکي برخه اخستي وه .

دشهید زاهد صاحب دوروستي ترناوي اودهغوي له کورني سره دواړگیرني له امله زموږ په زرگونو مسلمانو ورونو برخه اخستي وه چي په هغوکي د افغانستان داسلامي حزب مشر مولوي صاحب خالص ، مرستیال حاجي دین محمد ، مولاناجلال الدین حقاني ، نورو قوماندانانو اودمرکزي دفتر دمشرتابه غړیو اومسئولینوني ، دجمعیت اسلامي افغانستان مرستیال سیدنورالله عماداو ورسره نورومشرانو، دوحدت اسلامي مشر قاضي محمدامین وقاد، انجنیر منصف ، دجبهه نجات ملي مشاور مولوي الحاج محمدطاهر صدیقي، دحرکت انقلاب اسلامي مشر مولوي نصرالله منصور په پیښور کي داخل تشیع ورونو دوحدت اسلامي اوجهادي مشرانو دپاکستان دصوبه سرحد سیاسي شخصیتونو او عالمانو ، گڼ شمیر مجاهدینو ، مهاجرینو اودشهیدزاهد ابراهیمي خپلوانو ، دوستانو او مینه وال شامل وو .

دزاهد صاحب ورور دحزب اسلامي افغانستان د صحي چارو دریاست مرستیال ډاکترفضل محمد ابراهیمي د خپلي کورني دمنني په څرگندولو سره لنډه وینا واورولـه اووي ویل :

زما دایمان اوعقیدي ورونو ! السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته .

زما وروړ لکه دنورو شهیدانو په شان خپل وروستني ارمان ته ورسید هغه یوښت (۲۱) کاله مسلسل ددعوت په سنگر کي مسلح اوغیرمسلح په هغه څه پسي گرځیده چي نن لوي خداي (ج) پر هغه مهربانه شوي اوپیرزوینه يې پري وکړه او ورو يې رساوه زه په دي افتخارکوم زما لپاره او دافغانستان ټولو مجاهدینو بالخصوص دحزب اسلامي افغانستان دقیادت لپاره داد وياړځاي دي چي داسي شخصیت هم دجهاد په ټوکرکي قرباني ته تقدیموو زه دټولو مجاهدینو، علماو کرامو، مهورینو، سپین ږیرو، اوټولو مسلح قوماندانانو څخه ډېر ممنون یم او دوي ټولو ته ددي رحمت گاللو اجر غواړم

دوي موږته په خپلو راتللو سره ډیر افتخاروباښه لوي خداي دي جنت فردوس په بدل کي وریه برخه کړي زه تاسو ته داډ اواطمینان درکوم لکه څنگه چي شهیدزاهد ابراهیمي زما ورور زموږ دکورنیو او فامیلونو اولني شهیدندي دغسي به داهم پدي کورني کي وروستني شهیدهم نه شمیرل کیږي زه دټولو مجاهدینو نه

(ص ۸)

مولوي محمد یونس (خالص) او مولوي جلال الدین (حقاني)
دشهید زاهد ابراهیمي په فاتحه کي گډون وکړ

تبلیغات غرب

ملت ما معتقد است که رژیم کابل عامل اساسي جنگ بوده وکلید توقف ادامه جنگ بدست روس ها قراردارد که همه روزه مقادیر اسلحه ومهمات رادراختیار رژیم مزدور خود قرارمیدهد . اگرروس ها ارسال سلاح ومهمات رابه رژیم توقف بخشد فرداي آن رژیم کابل سقوط وجنگ درافغانستان پایان یافته وملت مسلمان افغانستان درروشنائي عقیده وآرمان خود حکومت دلخواه خودرا تاسیس مي کند ، وصلح به افغانستان چیره مي گردد.

بناءً حزب اسلامي افغانستان مخالف هرقطره خون که درافغانستان میریزد مي باشد، وبرنامه عملیات آن فقط بالاي مراکز وتاسیسات نظامي است که رژیم را استحکام بخشیده بوده وبدین ترتیب میتوان عامل جنگ را ازبین برد وسپس بعداز انتخابات حکومت منتخب را درافغانستان تاسیس کرد .

نبوي ارشاد

حضرت ابي هريرة (رض) وايي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل:

څوك چي په خداي اودآخرت په ورځ ايمان لري ، نودخپل ميلمه عزت دي كوي اوڅوك چي په خداي اودآخرت په ورځ ايمان لري نوخپل ګاونډي ته دي زيان نه رسوي ، اوڅوك چي په خداي اودآخرت په ورځ ايمان لري نونيكه خبره دي كوي اوياد دي چپ وي ، اوپه بل روايت كي دګاونډي په عوض راغلي دي چي څوك چي په خداي او دآخرت په ورځ ايمان لري نو خپلولي دي پالي .

متفق عليه مشكوة

شهيد قوماندان عبدالنافع

شهيد مجاهد قوماندان عبدالنافع دعبدالغني زوي دقندهار ولايت دپنډولسوالي اوسيدونكي چي دجهاد له پيل نه يي په وسله وال جهاد لاس پوري كړي وو اودملحد دښمن پرخلاف يي دېرو ورونو قومانده په غاړه وه اوپه دي مقدسه لاره كي دري ځله ټپي شوي هم وو دروان كال په لړيو كي د ١/٥/٦٩ دقندهار ولايت هوائي اډي باندي دعملياتو ترسره كولو په ترځ كي د شهادت لوړمقام ته ورسيد .

اناالله وانااليه راجعون

شهيد غلام حيدر "حيدري" دشهادت لوړمقام ته ورسيد

شهيد مجاهد وروړغلام حيدرحيدري دالحاج محمداسحق ځوي دننګرهارولايت دچپرهاردا خندزاده ګان دكلي اوسيدونكي دظفرغندو دتعرضي كندك يوځي مسوول دميزان دمياشتي په ١٣ - ١٤ شپه په مزينه كي له دښمن سره دجګړي په لومړي خط اوبوهم مركزكي دشهادت لوړمقام ته ورسيد. اناالله وانااليه راجعون

شهيد غلام حيدرحيدري په ١٣٤٠ كال كي په چپرهاركي زيږيدلي لومړني زده كړي يي دتريلي په ښوونځي كي وكړي اوبيا دچپرهار په ليسه كي شامل شو اوبروسانو له راتګ سره سم يي په وسله وال جهاد لاس پوري كړ چي دجهاد له بركته دقومانداني مقام ته ورسيد.

شهيد غلام حيدرحيدري داسلامي جهاد په موده كي له نوري پوري ته نيولي دسپين غره په لمن كي په ګڼ شمير جهادي عملياتوكي برخه اخستي ، دښمنواروتكهي د چوني په فتحه كي ټپي شو خو جهادي تنده يي زياته شوه ده دمولوي احمد په ملګرتيا د جلال آباد په شاوخواكي پوره بريالي عمليات ترسره كړيدي .

اوس هم دظفرغونډ په تعرضي كندك كي دملحدرژيم پرضد دجګړي دلومړي خط په اوږدوكي پروت ؤ او داسلامي حكومت دراوستلو هيله يي دشهادت دمقام په ګټلو ترلاسه كړه

روح دي يي ښاد اويادي يي تلپاتي وي . له ده څخه ګلورماشومان يتيمان پاتي شول لوي خداي (ج) دي ددوي كورني ته جميل صبر او اجرونه وربه برخه كړي

دېيښي لتنظيم طلبه وو دځلورو حوزو انتخابات وشول

باجوړ - دتلي ١٠ مه :

دروان كال دتلي دمياشتي په ١٠ مه نيټه په باجوړ كي دتنظيم طلبه ديښي لخوا ديوي غونډي په ترڅ كي داشاعة والسنة په نوم يوه نوي حوزه جوړه اوتشكيل ني پدي ډول اعلان كي :

وروړ موسي جان دناظم په توګه

وروړ شيراحمد دمعاون په توګه

وروړ عصمت الله دمالي مسئول په توګه

وروړعلي محمد دفرهنګي مسئول په توګه

وروړسعدالله دنشر واشاعت دمسئول په توګه

همدارنګه دروان كال دتلي دمياشتي په ١١ مه نيټه دمهري بازار په جامعه اسلامي كي نوي حوزه اوتشكيل ني پدي ډول اعلان شو .

وروړ محمديوسف وحدت يار دناظم په توګه

وروړ شريف الله دمعاون په توګه

وروړميرهاشم دمالي مسئول په توګه

وروړعبدالروف دفرهنګي مسئول په توګه

په همدي ډول دروان كال دتلي دمياشتي په ١٢ مه نيټه دجهانګير په مدرسه كي انتخابات ترسره شول چي تشكيل ني پدي ډول دي :

وروړفضل من الله دناظم په توګه

وروړ خانګل دمعاون په توګه

وروړ عبدالقدوس دفرهنګي مسئول په توګه

وروړفراموزخان دمالي مسئول په توګه

ومردان ضلعي دشخت بهائي په دارالعلوم اسلاميه جبهه كي پدي ډول انتخابات ترسره شول

وروړ حضرت ولي هاشمي دناظم په توګه

وروړحاجي محمد دمعاون په توګه

وروړنصرالله دفرهنګي مسئول په توګه

وروړ صفت الله عابد دمالي مسئول په توګه وټاكل شول .

دنصرت ميني په جامع جومات كي دشهيد زاهد ابراهيمي دفاتحي دمراسيمو يوه ګوښه

په ننګرهار

ددي اميدلرم او ارزولرم چي زموږ دكورني سره فمعنسي تعلقات وساتي لكه څنګه چي دهغه په ژوند كي يي ساتلي وو له هغي نه لا زيات زموږ له كورني سره خپلي اړيكي لا ټينګي كړي دشهيد زاهد ابراهيمي اودهغه اونورو شهيدانو قرباني دي خداي (ج) په خپل دربار كي قبوله اومنظوره كړي پروردګاردي هغوته خپل ديدار په نصيب وګرځوي

وريسي په دي مراسموكي دننګرهار ولايت دمومند دري دقرارګاه قوماندان مولوي عطاء الله لنوځي، دشهيد زاهد ابراهيمي لنډه سوانح ولوستله .

اوله هغي وروسته دافغانستان دحزب اسلامي مجاهد امير وروړحكمتيار پخپل وارسره دشهادت ديمرورتيني دشهيد داخروي عزت اودنيوي وياړ، دشهيد فضل الربي زاهدابراهيمي دجهادي كارنامو ، اخلاقو ، اوشخصيت په باب دغراړخبرو خبرو په ترځ كي دجهاديه رواتو چارو رڼا واچوله اوجهاد په لاره كي يي دجهادي ځواكونو دېدي راتلونكي برموټي كېدو او په دي توګه په ګران افغانستان كي ديوه اسلامي نظام دراوستو زيري وركړ.

دفاتحي مراسمو دماسپښين ترلمانځه پوري دوام وكړ اوترلمانځه وروسته هم دخبر اوغافت دوعاوشوه اوراټول شوي مسلمانان خپلو كورونو اوسيمونه دشهيدانو دارواح دخوښالي له پاره دخيرات په مراسموكي له ګډون وروسته خپاره شول .

په (I-R- C) ليسي كي دشهيد زاهد ابراهيمي" په نوم نوي حوزه پرانستل شوه

دروان كال دتلي دمياشتي په ورستيووركوكي د آي آرسي ليسي شاګردانو دشهيد زاهد ابراهيمي په نوم دمحصلينو يوه نوي حوزه جوړه كړه ، دحوزي ناظم اومسئولين يي پدي ډول وټاكل :

١- محمدرفيق دناظم په توګه

٢- محمدالله دمعاون په توګه

٣- ميرويس دارتباط مسئول په توګه

٤- شاه محمود دفرهنګي مسئول په توګه

٥- محمدوزير دمالي مسئول په توګه

٦- محمدامين دندرېز اجتماعات مسئول په توګه

اسرائيلو پخپله خپل امنيت په خطركي اچولي

لندن : دبريتانيا دبهرنيو چارووزير دګلس هردوبلي چي اسرائيلو ، منځني ختيځ په سوله ايزحل كي دفلسطينيانو له ګډون سره په مخالفت سره خپل امنيت پخپله په خطر كي اچولي . هغه له سندي ايكسپرس نومي خپرونه كي په يوه خپاره شوي مضمون كي ويلي چي اسرائيلو نه پكاردي له خپلو ګاونډيوسره خپلي ټولي ستونزي په سوله اوډخبرواترولره لاري حل كړي ، فلسطيني ولس ته حق وركړي چي په دغه سوله ايزوخبروكي برخه واخلي

دګلس هرداهم ويلي چي اسرائيل بايد دملګروملتوهيئات ته اجازه وركړي ترڅو د ٢١ تنو فلسطينيانو دشهادت په هكله ځانته معلومات راټول كړي ، هغه زياته كړي چي اسرائيلو په نيول شوي بيت المقدس كي سخت اونارو اقدامات ترسره كړي دي .

بايد په يادولرو چي تيره ورځ دملګروملتو دامنيت شوري په لومړي ځل يو دي وتوانيده چي داسرائيلو پرخلاف يوه اتفاقي پريكړه تصويب كړي . په پريكړه كي دملګروملتوله سرمنشي څخه غوښتل شوي چي دموضوع د تحقيق لپاره اسرائيلوته يوهيئات ولېږي

دركشمير اشغالي (٦) نفر هنـد وكشته شد

سرينګر - ٢٢ ميزان :

روزيك شنبه جنګجويان مسلمان به خانه هاي هندوها حمله نموده شش نفر را به شمول يك داكتر ودوزن ازبين بردند .

پوليس ميګويد : اين افراد درقسمت پائين بخش رهايشي شهر ازپا در آورده شده بودند

منابع پوليس اظهارنموده بنظر ميرسد كه اين يك حمله تلافي جويانه مسلمانان عليه اعمال وحشيانه ومقررات شديد توسط عساكر هندي درمنطقه مسلمان نشين باشد

اخطاررئيس جمهور

موصوف حين سخنراني به انعده افراديكه بخاطر بحث پيرامون پرابلم ومشكلات هاي عمومي به مقرر رياست جمهوري دعوت شده بودند گفت ، من از همه قدرت واختياراتي كه پارلمان اين كشور برايم تفويض نموده است استفاده خواهم كرد تا همه ما ازشراين فتنه رهائي يابيم

پارلمان مصر منحل اعلان شد

آژانس خبرګزاري شرق ميانه ګزارش داد ، اين اعلان يك روز بعداز ريفرندوم كه درآن همه راي دهندګان باطيب خاطر انحلال شوراي ملي فعلي آنكشور را كه در سال ١٩٨٧ انتخاب شده بود تصويب نمودند

آژانس مذكور علاوه نموده حسني مبارك مصوبه انحلال پارلمان را منظورنمود وخواهان انتخابات جديد طي دو دورة در روز هاي هفتم وپانزدهم برج قوس ګرديد . و پارلمان جديد درروز پانزدهم قوس به كارآغازخواهد كرد .

اين ريفرندوم بعداز آنكه دادګاه عالي كشورتشكيل غير قانوني پارلمان فعلي را در برج مي صادر نمود صورت ګرفت ومورد تصويب اكثريت قاطع راي دهندګان قرار ګرفت . قراريك خبردېګر سخنګوي مجلس مصر توسط افراد ناشناخته به قتل رسيد ولي تاالحال هيچ منبع مسئوليت اين قتل را بدوش نګرفته است .

كويت بعد ازآزادي روش دموكراتيك را برميګزيند

جده - ٢٢ ميزان :

امير مخلوع كويت اظهارنموده كه وي بعداز آزادي كشورش ازتسلط نيروهاي عراقي پارلمان كاملاً آزاد را درآنكشور اساس خواهد ګذاشت . ودولت را درمسير دموكراسي پيش خواهد برد طبق ګزارش آژانس هاي خبري وي دركنفرانس مردم كويت درجده كه رياست اين كنفرانس رانيز به عهده داشت ، تصميم قاطع خود رامبني بر تشديد تلاش ها بخاطر استقرار آزادي وايجاد پايه هاي مستحكم اجتماعي دركويت ابرازنمود .

دوكتوراسماعيل شطي ضمن ګفتګوي مختصري با خبرنګاران ګفت اين كنفرانس باحمايت سرشاري كه كويت ازجهان آزاد دريافت نموده برګزارګرديده است . كنفرانس درنظر داود كه نمايندګان رسمي به كشورهاي پنج عضو بزرګ شوراي امنيت سازمان ملل وهمچنان به ساير كشورهاي جهان بخاطر سپاسګزاري ازحمايت آنها درشرايط دشوار بفرستد. اين كنفرانس بعداز تصويب استراتيژي وپلان مبني بر آزادسازي كويت خاتمه ميابد .

عراق داتومي بم دجوړولو لپاره يورانيم ذخيره كوي

روسيي ته دعراق اخطار

لندن : دعراق هيواد داتوم بم جوړولو لپاره همداوس لګيادي كافي يورانيم ذخيره كوي دغه ټكي دشيري شنبي په ورځ دبريتانيا يوه غير حكومتي تلويزيون خپور كړ . دغه تلويزيون ديوه فلم ښودلو په ترڅ كي دروسي جاسوسي دستګاه په واسطه داخستل شوو هغو غرونو عكسونه خپاره كړل چي عراق پكي يورانيم ذخيره كوي همداراز دفلم پروډيوسرديوه كردي په حواله داخبره هم څرګنده كړه چي دعراق جمهوررئيس هميشه ددغو غرونو څخه ليدنه كوي .

ديوبل خبرله مخي عراق روسيي ته هم اخطار وركړي چي كه چيري روسي جاسوسي دستګاه دعراق په هكله سي ، آي ، اي ته معلومات وركړي او دعراق نظامي راز افشا كړي نو په عراق كي موجودو پنځه زره روسي مشاورينو اواوسيدونكو ته به دوتو اجازه ورنه كړي .

####

اين سه نفر به اثر ضربات ګلوله جنايت بار اسرائيل ها درين اواخر دريكي از شفاخانه ها شهيد ګرديدند

شهادت

بيانګرعقايد وآرمان هاي حزب اسلامي افغانستان

موسس : انجنير حكمتيار

صاحب امتياز : حزب اسلامي افغانستان

ناشـــــر: رياست ارشاد وفرهنګ

ســال تاسيس : ١٣٥٧ هجري شمسي

تحت نظرهيئت تحرير

مجاهدورور جمعه ګل په شهادت ورسيد

په ډيري خواشيني سره موخبر اخستي چي دوردګو اوميدان ولايت دسيدچك ولسوالي دتكزار سيمي دكركت كلي اوسيدونكي مجاهد ورور جمعه ګل دسيدغلام زوي د ٢٢ كلونو په عمر په شهادت ورسيد.

نوموړي غازي چي د ١٣٥٩ كال راپديخوا ئي په وسلوال جهاد لاس پوري كړ اودروان جهاد په پيروګرمو موږچلونوكي يي دلاس پوځي رژيم پلويانو ته ماتي ماتونكي ګذارونه وركړل اويه آخركي دروان كال دتلي دمياشتي په ٦ مه نيټه دكابل ولايت دپغمانو ولسوالي دخمنه اول علاقداري دجګړي ديوستو سره ديوي مخامخ نښتي په ترڅ كي په داسي حال كي چي دري پوستي فتح شوي دشهادت لوړمقام ته ورسيد روح ئي ښادوي .

په نيول شوي كشميركي دخپلواكي لومړي او وروستي جګړه روانه ده

(اشرف صراف)

مظفر آباد - جنګ

دكشمير خپلواكي غوښتونكي غورځنګ ويندوي پروفيسور محمداشرف صراف ويلي چي په نيول شوي كشمير كي دخپلواكي لومړي او وروستي جګړه روانه ده چي ددري اوماتي په نواړو حالاتو كي به پاكستان ددي مشاتره كيږي . هغه ددوي مطبوعاتي مركي په ترڅ كي وويل چي په كال ١٩٤٧ داكتوبر په مياشت كي هند په ناروا ډول خپل پوځونه كشمير ته داخل اوهغه يي قبضه كړ ، نو په همدي لحاظ داكتوبر ٢٧مه ورځ به په ټوله نړي كي دكشمير پانو له خوا دتوري ورځي په نامه نفسيح كيږي، همداراز به نيول شوي كشميركي به ښيوا اعتصاب اواحتجاجي مظاهري وي ، دهغه پورځ په سوځول كيږي پداسي حال كي چي پاكستاني پورځ به په زياراختي اواسلامي مراسم به ورته اجراكيږي . هغه وويل داكاريه دكشمير دجهادډګړي شوري له خوا تنظيميږي . هغه داهم وويل چي په امريكا كي به دملګروملتو ددفتر په وړاندي هم مظاهري كيږي اوله دغه سازمان څخه به غوايي چي دكشمير ناودحقوقو لپاره رياروباسي .

جنرال عون

پايان دادن به خونريزي وحفظ آنچه باقيمانده است ، من ازنيروي نظامي ، صاحب منصبان ارتش لبنان تقاضا ميكنم كه از اوامر جنرال اميل لاحود اطاعت نمايند

قرار اخبار جديده حكومت لبنان تصميم ګرفته كه به جنرال عون اجازه بخواهد داد كه به فرانسه بګريزد، حكومت خواهان محاكمه وي است .

په الجزائركي دامريكا او اسرائيلو پرخلاف مظاهري

الجزيره - دميزان ٢١ مه

له الجزاير څخه په رارسيدلو خبرونوكي ويل كيږي چي دغري شنبي په ورځ دغه هيواديه پايتخت الجزيره كي په زرګونو خلكو دامريكا دسفارت په وړاندي مظاهري وكړي چي دامريكا اواسرائيلو پرخلاف يي شعارونه وركړل ، په خبركي زياته شوي چي دغو مظاهرو په ترځ كي دامريكا دسفارت په مخ كي دامريكا او اسرائيلو بيرغ ته اور واچول شو اوداامريكا دجمهوررئيس بش جوړه كړي شوي مجسمه هم وسوځول شوه

ديوبل خبرله مخي مظاهره چيانو له امريكا اودهغه له پلوي هيوادونو څخه وغوښتل چي دعراق پرخلاف اقتصادي بنديزونه مات كړي او ژرترژره يردي عسكر دخليج له سيمي څخه وركړي مظاهره چيانو دعراق په طرفداري شعارونه وركول

پايګاه هاي رژيم

حوزه لمل ناوسخي ١٥ - ١٦ عمليات وسيعي بالاي پوسته هاي واقع دراويمان شريف انجام نمودند كه درنتيجه هفت پوسته دشمن ازبين رفته وبه تعداد ١٠ نفر ان زخمي وهلاك ګرديدند . همچنان دونفر دشمن اسيرشدند

دركزارش علاوه شده است كه درين برخورد خونين دونفر ازمجاهدين راه اسلام نيز به درجه عالي شهادت نايل وسه نفر ديګر مجروح ګرديدند . ګزارش مي افزايد بعدازين عمليات موفقانه دولت ملحد به انتقام وحشيانه دست زده وشام عورمند را تحت بمباردمان هوايي وراكتي خود قرار داده و خانه هاي مردم را ازبين ميبرد . همچنان درعمليات مورخ ٢٠ ميزان مجاهدين حوزه نعمان تحت قومانده استاذفتح محمد بالاي پايګاه هاي دشمن درشهر جاريكار حمله نمودند درنتيجه ذخيره مهمات دشمن را آتش زدند .

خاك جبار

په ورسيدل . اناالله وانااليه راجعون

په يوه بل خبركي راغلي چي دكمونست رژيم هوائي قواوو دمحمد آغي ولسوالي اوبل علم سيمه تر سخت بمباريو لاندي ونيوه چي دكنځك په كلي كي ٧ اودمحمدآغي په ولسوالي كي ٤ كسه بي دفاع مسلمانان دشهادت لوړمقام ته ورسيدل روح ئي ښادوي .

په خبرونو كي داهم ويل شوي چي په همدي شپه دارغندي سيمي مجاهدينو دكابل رژيم په نظامي قرارګاوو دراته عمليات اجراكړي اوزيات زيانونه يي ورسولي دي

دكابل رژيم دفوتاريخي عملياتو دوهره وارخطا كړي چي دغه عمليات يي دهغو ګهو منظمو عملياتو پيلامه بللي چي حزب اسلامي يي وعده كړيده خو حقيقت داچي چي داوركمي عادي عمليات وچي دكابل رژيم برغواوو ترسره شول .

دبي دركيي اعلان

تاج الدين دشيخ الدين زوي دپكتيا ولايت دځاځي ولسوالي دبيطه كلي اوسيدونكي چي ١٢ كلن هلك دي دينګو مياشتو په اوږدوكي له كوماټ څخه بي دركه شويدي كه چانه پته وي پدي پته دي احوا ل راكړي پشاور - جي ټي روډ - نزدامين هوټل مشتنګري - عقب مېټروسينما ، افغان مهاجرين هاسټل خليل الله پرديس دپوليس پولګي ردي كوونكي

تبديلي نام

برادر محمدذاكر ولدغلام نبي مسكونه ولسوالي چهاردهي ولايت كابل فعلاً متعلم ليسه سيدجمال الدين افغان كه به ذيركي مشهوربوده ازاقارب وخويشاوندان آرزومند است كه بعدازين وي رابنام ذيركي نه بلكه به اسم اصلي اش محمد ذاكر بشناسند .

پوست بكس (١٠٢٨)
يونيورستي تاون پشاور
تلفون نمبر ٦٣٧٨٩ -
30224 پشاور